SMITTSKYDDSBLAD – PATIENTINFORMATION

PASHTO – LATENT TUBERKULOS, DÄR BEHANDLING GES

پټ نرۍ رنځ، د ناروغ لپاره معلومات

کله چې د مخنیوي درملنه ورکول کیږي. د انتان نه د خوندي پاتې کیدو لپاره د ډاکټرانو معلوماتي پاڼه

نرۍ رنځ څرنګه سرایت کوي؟

هغه ناروغ چې په سږو کې یې د نري رنځ مکروب پاتې وي، که چیرې په یو بند ځای کې وتوخیږي نو کیدای شي چې دا انتان نورو ته سرایت وکړي. د نورو اعضاو نرۍ رنځ یا پټ نرۍ رنځ نورو ته سرایت نه کوي. دا یوه غیر عادی خبره ده چې ماشومان له بلوغ وړاندې د سرایت لامل شي. د سرایت خطر هغه مهال نور هم ډیریږي چې له نري رنځ ناروغ سره په یو کوټه کې تر ډیره وخته ناسته وشي د بېلګې په توګه د هغو شیان استعمال کړل شي.

پټ نرۍ رنځ څه شی دی؟

هر هغه کس چې سرایت ورته ورسیږي په نري رنځ نه اخته کیږي. د ډېرو خلکو د وجود قوي مدافعه کولی شي چې ددې باکټریا د خپریدو مخه ونیسي. امکان لري چې دا باکټریا په وجود کې پاتې وي خو فعال حالت ونلري. دې حالت ته **پټ نرۍ رنځ** ویل کیږي.

پټ نرۍ رنځ ناروغي نه ده

د وینې معاینې (IGRA ټیسټ) یا د پوستکي معاینې (ټیوبرکولین ټیسټ) وروسته چې کله تاسي ته وویل شوي چې تاسو پټ نرۍ رنځ لرئ چې د ناروغیو هیڅ ډول علایم پکې نشته چې د نري رنځ لامل شی. نو تاسي نشئ کولئ چې دا باکټریا بل چا ته ساري کړئ.

که څه هم ستاسي په راروان ژوند کې په نري رنځ د اخته کیدو امکانات شتون لري خو خطر یې کم دی.

په ځینو مواردو کې د مخنیوي درملنه پیلیږي

ځینې هغه خلک چې په راروان ژوند کې ورته ددې خطر ډېر وي چې ګواکې په دې نوموړي ناروغۍ به اخته شي، نو دا رنګه کسانو ته د مخنیوي درملنه پیلیدی شي. په لومړي لاس کې دا هغه کسان کیدای شي لکه حامله ښځې او وروسته له حمل څخه، ماشومانو او ځوانانو او په ضمن کې هغه کسان چې د وجود دفاعي قوه یې کمزوري وي لکه هغه ناروغان چې د سرطان د تداوۍ لاندې وي، هغه ناروغان چې د انسولینو د تداوۍ لاندې وي، د شکر او یا هم هغه کسان چې د ګردو په سخته ناروغۍ اخته وي. سربېره له دې د مخنیوي درملنه هغه کسانو ته هم پیلیدی شي چې تازه د نري رنځ به عفونت اخته شوي وي.

تاسي ته د مخنیوي د درملنې توصیه کیږي

تاسي پټ نرۍ رنځ لرئ او ستاسي ډاکټر د مخنیوي په موخه تاسي ته تداوي توصیه کوي. دا ددې لپاره چې په راوران وخت کې ستاسي په نري رنځ د اخته کیدو خطر کم کړي.

که چیرې تاسي په راوان وخت کې په اوږد مهاله توخي (چې له 3 اونیو اوږد شي) اخته شئ، شپې له اړخه خوله کوله شئ، تبه یا په نه غوښتونکي حالت کې د وزن کیمیدو سره مخ شئ نو خپل ډاکټر سره اړیکه ونیسئ تر څو د نري رنځ معاینات مو ترسره کړي.

د اړیکو معلومات (Kontaktuppgifter)

د صحی مرکز نوم *(Namn på mottagningen)*

.....

تاسي له لاندینی ډاکټر سره ولیدل *(Du har träffat)*

ډاکټر ..... *(Läkare)*

نرسه.....*(Sjuksköterska)*

د ټلیفون شمیره/صحی مرکز کې د ټلیفون وخت *(Telefonnummer/telefontid till mottagningen)*

.....